// افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان
AA-AA
چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم
www.afgazad.com afgazad@gmail.com
Literary - Cultural ادبی - فرهنگی

محمد هارون خيل شعشعي
۲۹ می ۲۰۱۲

# « سوچه پالنه » که « ژب ورانَونه »؟

له څو لسيزو راهيسي د ايران د پارسي سوچه پالني تر اغيزې لاندي زموږ په خوږه او سپېڅلي پښتو کي هم داسي لېونی او بې هدفه لوبي رواني دي، چي د خپلي ژبي د پالني او روزني پر ځای يې په واقعيت کي د پردو ژبو و ظالمانه راج او تاراج ته لار هواره کړې ده . له پښتو ژبي څخه د پرديتوب په گونا داسي ټکي، اصطلاحات، ترکيبونه او عبارتونه ايستل کيږي، چي له سووکلو را په دي خوا زموږ د خلگو په ورځنيو خبرو او محارو کي دود دي؛ مثلاً « درياب » د پهلوي/ پارسي « دريا » مغيره بڼه ده، چي د پښتو په ديواني ادب کي هر ځای د عربي « بحر » په مانا استعمال سوې ده؛ او تر اوسه پوري د زياترو پښتنو، په تېره بيا جنوب - لوېديځي لهجي په ورځنيو خبرو او مکالمو کي، په همدې مفهوم ژوندی او مستعمل ده . د« سوچه پالني » په خيالي هوا و هوس کي دوبو ژبپوهانو او ليکوالو څو لسيزي مخکي د پښتو په رسمي او مطبوعاتي ژبه کي دا لرغونی، خو ژوندی او مروج ټکی د پارسي رېښي په گرمتيا يو مخ له چلنده وغورځاوه؛ او پر ځای يې د هندي ژبي و« سمندر » ټکي ته مخه کړه، چي پخوا يې د « درياب يا بحر » په مانا په پښتو ژبه کي هيڅ لرغونيتا او استعمال نه لاره؛ ځکه د پښتو ادب محققو او مدققو متنپوهانو، لغتپوهانو او ژبپوهانو ته څرگنده ده، چي« سمندر » کليمه زموږ په لرغوني ادب کي تقريباً هر ځای د هغي شرموښکی/ شرمښکی يا سوسمار په مانا راغلي ده، چي په اور او اوبو دواړوکي ژوند کولای سي؛ او په انگريزي کي( کې يې) سَلَمَندر (salamander) بولي. د پارسي ادب په زړو متنوکي هم « سمندر » ټکی د همدې ذوحياتين (amphibious) حيوان په مانا کار سوئ دئ .

« جنگ » کليمه له عمرو راهيسي په پښتو کي باب ده؛ عام و خاص يې په خپلو خبرو او محاورو کي وايي؛ مگر د « سوچه پالني » پر خرو سپورو ژبپوهانو او ليکوالو يې نن سبا د پښتو په رسمي او مطبوعاتي ژبه کي پر ځای « جگړه » کليمه درولي ده، چي په حقيقت کي د هندي ژبي د« جهگړا » مفغنه بڼه ده . شک نسته، چي ډېر سنسکريت او هندي ټکي لکه « جگړه »، « دنده »، « ډول »، « دوک »، « کړکی »، « أرسی »، « کوټی »، « کوټ »او په سوو نور په پښتو کي ژوري او مزبوتي رېښي لري؛ او د همدې ژورو او پراخو رېښو له مخي اوس زموږ د ژبي، ادب او لغوي زېرمي نه بېلېدونکي برخه گڼله کيږي؛ خو سره له دې هم بايد هيڅکله د هغو

کلیمو ځای اشغال نه کي، چي له پېړییو پېړییو څخه زموږ په ژبه او ادب کي پراخ استعمال لري . په بله وینا، «جګړه »، « سمندر » او داسي نور ټکي به هیڅکله د« جنګ »، « دریاب » او داسي نورو مروجو ټکو د نابودی په بیه نه را مخ ته کوو، بلکي ټول به د مترادفو یا متقاربو ټکو په شان د خپلي لغوي زېرمي ارزښتناکه برخه بولو؛ او په ژوندي ساتلو کي بې( به یې) د زړه له کومي زیار باسو . د « سوچه پالني » ړانده او تعصب لړلي ژبپوهان باید په دې روښانه واقعیت سر خلاص کي، چي که د یوې اشنا کلیمي په مرسته د بلي اشنا کلیمي ناچلنده کول یا پیکه کول عملاً هیڅ ګټه نه لري، د یوې نا اشنا او نامأنوسه پردی کلیمي په وسیله د خپلي ژوندی او مستعملي کلیمي وژل او ناکاره کول حتا تر جفا او خیانت په کمه نه دي .

که څه هم پښتنو« سوچه پالو »، په دې وروستییو لسیزو کي هر ځای « جګړه » کلیمه د « جنګ » پر ځای درولي ده؛ خو سره له هغه هم د دې ټکي وځیني نورو مشتقاتو لکه : « جګړه مار » ته د هندي رنګ او جولي له اسیته په ښه سترګه نه ګوري؛ او د هغه پر ځای بیا خپل بې خونده او بې رنګه ټکي ( اورپکی او داسي نور) کاریي . دا خبره سهي ده، چي « مار » د هندي ژبي له « مارنا » مصدر څخه اخیستل سوئ دئ؛ خو په پښتو کي له سوو کلو را پدېخوا په ډېرو پښتو - هندي ترکیبي ټکو لکه : « نس مار »، « خړي مار »، « لوټمار »، « جرګه مار » او داسي نوروکي پراخ استعمال لري . په پښتو کي« جګړه مار » د جنګره، جنګ غوښتونکي، جګړاوو، شریر، پساتي او داسي نورو په مانا کاریږي، چي ناوړه او منفي صفت دئ؛ حال دا چي په هندي او اوردو کي و دغه راز شخص ته د « جګړه مار» پر ځای « جهګړالو» وایي . په دې ډول ګورو، چي د « جګړه مار» ترکیبي ټکي پر خپل هندي اصل او جولي سربېره، په پښتني محیط کي مانوي ( معنوي) بدلون پیدا کړئ دئ . « نس مار »، « خړي مار »، « لوټمار »، « جرګه مار »او داسي نور ګرده د پښتو ژبي د لغوي زېرمي نه ارزښتناکه او بېلېدونکي برخه ده . لکه څنګه چي( چي یې) زموږ عام خلګ په خپلو خبرو او مرکو کي کاریي، ژبپوهانو، لیکوالو، شاعرانو او ژورنالیستانو ته هم نه ښایي، چي د پردیتوب په ګونا یې له ژبي وباسي؛ او له دې لاري د ژبي پر لغوي زېرمه ظالمانه یرغل وکي .

تاسي وګورئ، زموږ خلګ ( پښتانه او پارسي وانان) له پېړییو پېړییو راهیسي و هغه ډګر یا میدانی ته « چوک » وایي، چي د مخالفو خواوخو سړکان/ سړکونه پر سپاره یي . په کابل کي« چوکِ سپاهیِ ګمنام »، په کندهار کي « د شهیدانو چوک »، په پېښور کي « چوکِ یادګار » او په زرو نور ټول زموږ په ملي ژبو کي د دې ټکي د لرغونیتا او تاریخي ریښي روښانه ثبوت ښیي . ایرانیانو په دې وروستییو کلو کـــي د انګــــرېزي ژبـــي د **(crossroad, junction, intersection ect.)** یا نورو اورواپایي ژبو و ورته ټکو ته د « چهار راه » ټکی را ویستئ، چي زموږ پېښه ګرو لغت جوړونکو د سترګو په رپ کي توری په توری وژباړه؛ او « څلور لاره » یي ځني جوړه کړه؛ اما په دې حقیقت یې سد نه رسیږي، چي ایرانیانو خو په خپله پارسي کي« چوک » کلیمه نه لرله؛ ځکه یې نو دا اورواپایي ټکی په« چهار راه » ترجمه کئ . موږ ته څه اړتیا ده، چي د هغو پر تفاله شخوند وهو؟! نېخه زموږ « مبتکر او متفکر » نیولوجیستان په « چوک » کي څه بدي ویني؟!

- ایا زموږ په ملي او رسمي ژبوکي تاریخي ریښه نه لري؟
- ایا تر اوسه د خلګو په خبرو او محاورو کي ژوندی او مستعمله نه ده؟
- ایا پر ټولو افغانانو سربېره یي د هندوستان، پاکستان، بنګله دېش او ځینو نورو هیوادو میلیونونه وګړي هم هره ورځ په خبرو او محاورو کي نه کاریي؟
- ایا د ژبني جوړښت له مخي تر جعل سوي « چهار راه » او « څلور لاري » لنډه، اسانه او خوږه نه ده؟

درنو لوستونکو ته ښه مالومه ده، چي « قربان » او « قرباني » ټکي زموږ هیواد ته د اسلام د سپېڅلي دین د راتګ له زماني څخه راغلي دي؛ خو په ډېري خواشینی سره د پردي پالني جاهلو او متعصبو مخکښانو نن سبا په ډېر ویاړ او غرور د هغو پر ځای د « بلهار » او « بلهاري » کلیمې را منځ ته کړي دي، چي په حقیقت کي د هندي ژبي اصیل او سوچه ټکي دي . د ایتمولوژی له نظره، « بلهار » او « بلهاري » دواړه د « بل » له ریښي څخه مشتق سوي دي، چي هغه هم په خپل وار سره د سنسکریت ژبي له ولیه (valaya) ټکي څخه اخیستل راوتلئ دئ . بېشکه، دا ټکي د خوشال خان ختک ( ۱۰۲۲ - ۱۱۰۰ هـ ق) په کلیاتو کي راغلي دي، چي کله کله په اشعارو کي د قافیې د اړتیا او کله کله هم په هندي او سنسکریت ژبو کي د شاعر د لاس لرلو او تَبَحُر استازیتوب کيي( کوي) . تر دې آ خوا دا ټکي نه یوازي زموږ د عامو خلګو په خبرو او محاورو کي هیڅ ځای نه لري، بلکي ښایي له څو ګوتو په شمار ژبپوهانو، متنپوهانو او لغتپوهانو پرته یې زیاتره لیکوال او شاعران هم تر اوسه و نه پېژني .

زموږ سترګه ور او اندیښمند لوستونکي دي په خپله قضاوت وکي، چي د« قربان » او « قربانی » غوندي اشنا او مأنوسو ټکو پر ځای د هندي ژبي د« بلهار » او « بلهاري » ټکو را برسېره کول څه منطق، تعقل او ګټه لري که څنګه؟! تاسي هندي فیلمونه وګورئ، حتا هندیان په خپله هم« بلهار » او « بلهاري » کلیمې نه استعمالیي، بلکي پر ځای یې د عربي ژبي« قربان » او « قرباني » ټکي وایي . تر ټولو لوی او مهم سَوَب یې دادئ، چي دا ټکي د اسلام له دین او دود ودستور سره مستقیم اړیکی لري . له همدې وجي یې په بله ژبه کي موزون او مناسب معادل ټکي نه پیدا کیږي . « اسلام »، « حج »، « زکات » او داسي نور ګرده له دې ډلي څخه دي . عجبه خو دا چي موږ په پښتو کي پر « قربان » سربېره، « صدقه »، « نذرانه »، « سرښندنه »، « واری »، « جار/ ځار» ،« ګرځېدل » او داسي نور ټکي هم لرو، چي ټول د همدې مفهوم او مانا دپاره کارېږي؛ مثلاً موږ وایو: « تر تا صدقه سم »، « ستا نذرانه سم »، « در واری سم »، « تر تا جار/ ځار سم »، « تر تا وګرځم » « پر وطن یې سر وښانده »، « د خاوري او ناموس په مورچل کي دربدل لو(لویه) سرښندنه ده .» او داسي نور؛ خو زموږ ګمراه او غره ژبپوه دا ټول ساده، خواږه، اشنا او مستعمل ټکي تر خاورو لاندي کيي؛ او په پټو سترګو د هندي ژبي د« بلهار » او « بلهاري » و را ژوندي کولو ته ملا تړي .

د اسلام د راتګ له وخته یاني څه دپاسه دیرلس نیم سوه کاله دمخه زموږ خلګ ( پښتانه، پاړسیوانان او نور) د عربي ژبي له صفت (adjective) کلیمې سره اشنایي لري . سره له دې هم دا دئ زموږ « نابغه » ژبپوه د خپلو « عالِمانه » او « فیلسوفانه » کشفیاتو په لړ کي وهغي ته د « ستاینوم » معادل راایستلئ دئ، چي په ریښتیا سره د خندا او مسخرو وړ دئ؛ ځکه :

- عربي « صفت » پر پښتو سربېره په پاړسي، اردو، تورکي او نورو ګاونډیو ژبو کي ډېره عامه او مستعمل کلیمه ده؛ هر څوک یې په مانا پوهېږي؛ حال دا چي « ستاینوم » هیڅوک نه پېژني .

- د ایتیمولوژی له پلوه « صفت » ساده او بسیط ټکی دئ، چي له یوې ریښي څخه را وتلئ دئ؛ حال داچي « ستاینوم » ترکیبي ټکی دئ، چي له دوو بېلو ټکو( ستای + نوم) څخه ترکیب سوئ دئ . له یوې ریښي څخه راوتلي ټکي په ژبپوهنه کي تر مرکبو ټکو ډېر غوره ګڼل کیږي .

- « صفت » د مانا له پلوه رسا، واضح او روښانه ټکی دئ؛ په داسي حال کي چي « ستاینوم » پېچلي، مبهمه، زموخته او ان ناسمه کلیمه ده . ما ددغه راز « نابغه » او « علامه » ژبپوهانو ډېر بې خونده او کمزوري لغوي

بدعتونه اروېدلي او ليدلي دي، چي پر هر يوه يي اوږدې انتقادي خبري کيدای سي؛ خو په « ستاينوم » کي داسي شُوډنګ او اَلَماني کړي ده، چي پر بې خوندی، پېچلتيا او ابهام سربېره مانوي او ګرامري کمزوري هم لري .
که د« سوچه پالني » پر لېوني خره سپاره ژبپوهان، ليکوال، شاعران او ژورناليسان څورلس سوه کاله وروسته د عربي ژبي« صفت » نسي زغملای، بيا خو د دې کار دپاره د پښتو ژبي « ستاينه » تر « ستاينوم » ډېره اسانه، ساده، عامه، ښکلي او بامانا کليمه ده . زه نه پوهېږم، دې « نابغه » ژبپوهانو د څه شي ماغزه خوړلي دي، چي بې هيڅ دليل او اړتيا يي د « ستايني » له لنډ يا اختصار سوي شکل ( ستای) سره د « نوم » ټکی هم موښلولئ دئ؛ او په دې توګه يي وعام و خاص ته د يوې اسانه او ساده کليمي په پوهېدو کي لوی کړاو او جنجال پيدا کړئ دئ . « ستاينوم » ياني د ستايني نوم ( اسم) يا هغه اسم ،چي ستاينه کيي؛ حال دا چي صفت(**adjective**) د ګرامرله لحاظه له نوم/ اسم (**noun**) سره مځکه او اسمان فرق لري؛ ځکه « نوم / اسم » په ګرامر کي هغه کليمه ده، چي د شخص، ځای، شي، کيفيت يا عمل د نومولو دپاره کاريږي لکه : احمد، کندهار، غنم، رمه، مړانه، زړورتيا، سوچ او داسي نور؛ خو « صفت » هغه کليمه ده، چي و يوه اسم يا ضمير ته ځانګړتيا ورکيي . په بله وينا د يوه اسم يا ضمير بېلوونکی خصوصيت او څرنګوالی ښيي لکه : تور، سور، غټ، کوچنی، جوړ، ناجوړ ، هوښيار، ټمبل/ تمبل، څلاند، تپاند او داسي نور . که څوک و وايي : صفت هغه نوم دئ . . . دا تعريف سم او دقيق نه دئ؛ ځکه په دې تعريف کي صفت نوم يا اسم ګڼل سوئ دئ، چي په حقيقت کي له نامه يا اِسم سره ډېر توپير لري . د « ستاينوم » په ليدو او اروېدو سره وخلګو سمدلاسه ته دستايني ( صفت) او نامه ( اسم) تر منځ د ګډېدو او التباس مشکل پېښيږي . نتيجه دا چي اول خود عربي ژبي د د اشنا او مأنوس ټکي پر ځای د بل جعلي او خودساخته ټکي وجوړولو ته هيڅ حاجت نه ؤ، که مو د « سوچه پالني » جوش و ارام او کرار ته نه پرېږدي، بيا نو « ستاينه » په يوازېتوب سره د عربي « صفت » پوره جواب وايي، چي هم ساده ده؛ هم اسانه هم رسا . برعکس، « ستاينوم » نه ساده دئ، نه اسانه، نه رسا .
زموږ بي خبره « سوچه پال » نه يوازي په پښتو کي د پاړسي، عربي او نورو ژبو له اشنا او مأنوسو ټکو سره داسي بې غَوْره او بي پروا چال چلند کيي، بلکي د خپلي ژبي ځيني اصيلي او پخوانۍ کليمي يي هم د همدې بې خبرۍ يا لهجه يي تعصبو تر سيوري لاندي د مرګ او زوال له خطر سره مخامخ کړي دي؛ مثلاً« دباندي » د پښتو ژبي پخوانۍ سوچه او سپېڅلي کليمه ده، چي د نورو لهجو پر خلاف يي په جنوب - لوېديځه لهجه کي د استعمال ورشو خورا لواو اَرَته ده ( د پښتو په نورو لهجو کي د دې ټکي پر ځای د پاړسي ژبي له « بيرون » څخه کار اخيستل کيږي) . د « سوچه پالني » مدعيانو دا ټکی هم په پټو سترګوپه « بهر » اليش کئ، چي په حقيقت کي د هندي ژبي له « باهر » څخه اخيستل سوئ دئ . نن ګورو، چي ټول بې خبره او پېښه ګر مطبوعاتيان په خبرو او ليکنو کي دباندنييو يا خارجه چارو وزارت پر ځای د بهرنييو چارو وزارت وايي او کاري . دا ناوړه کار تر دې دوو حالتو دباندي نه دئ :
- يا دا چي زموږ ځيني ژبپوهان، ليکوال او ژورناليستان له لويه سره په دې خبره نه پوهېږي، چي د عربي« خارج » يا پاړسي« بيرون » دپاره په پښتو کي داسي اصيله او پخوانۍ کليمه ( دباندي) لرو، چي هره ورځ د جنوب - لوېديځي لهجي د ميلونو وګړو په خبرو او محاورو کي استعماليږي .
- يا دا چي د لهجه پالني او ذهني ګرېيو له شامته د بلي ژبي نادوده او نا اشنا کليمه د خپلي ژبي تر مروجي او مأنوسي کليمي غوره ګڼي . دا دواړه حالتونه دهغه چا و علمي شخصيت او مسلکي شهرت ته لوی عيب ګڼل کيږي، چي په پښتو ژبپوهنه کي د پوهاندی، استادی او ډاکټری ادعاوي لري .

پښتانه ژبپوهان، ادیبان، شاعران او ژورنالیستان درست پوهېږي، چي موږ په پښتو کي « ادبي ټولنه »، « مدني ټولنه »، « کلتوري/ فرهنګي ټولنه » وایو؛ خو د پښتو ژبپوهني ځینو « نوابغو» د دغه راز اشنا و مأنوسو عبارتو پر ځای د ایرانیانو« فرهنګستان » ټکی خوښ کړئ دئ . زه نه پوهېږم، چي د نورو پر ژوولو شخوند وهل تور دي که سپین؟! « فرهنګستان » کلیمه خو حتا په ایرانی پاړسي کي هم تر ۱۳۱۴ش کال په آ خوا هیڅ سابقه او لرغونتیا نه لري . کي وهم لري، په موږ یې څه؟! ایرانیان پوهیږي او خپله ایرانی پاړسي یې . که څوک دا سفسطه وایي، چي « فرهنګ » او « ستان » خو لرغوني آریایي کلیمي دي، ځکه نو باید په پښتو کي هم دود سي، زې ( زه یې) په جواب کي وایم، د علامه علي اکبر دهخدا، ډاکتر محمد معین او استاد حسن عمید فارسی فرهنګونه په دغه راز لرغونو آریایي ټکو ډک دي، ایا موږ کولای سو دا په اصطلاح مړه او وراسته آریایي ټکي د خپلي ژبي د ژوندو او مروجو ټکو پر ځای ودروو؟! کي په دې یا هغه نامه وهم دروو، ایا خلګ به د دې مړو او نابللو ټکو و منلو ته غاړه کښېږدي؟! موږ ولي په دې روښانه حقیقت سر نه خلاصوو، چي خلګ هیڅکله په آریایي، پاړسي، عربي، هندي او داسي نورو خبرو پسي نه ګرځي . هغوی یوازي هغه ټکي، اصطلاحات، ترکیبونه او عبارتونه خوښیي، چي ساده، اسانه، اشنا او په زړه پوري یې؛ ځکه خلګ خو و ژبي ته د پوهولو او پوهېدلو یا اِفهام او تفهیم د وسیلي په سترګه ګوري، نه زموږ ځیني بدمرغو ژبپوهانو، لیکوالو، شاعرانو او ژورنالیستانو غوندي، چي له ژبي څخه د تعصبو، تنګ نظریو او شخړو د روزلو او خپرولو د وسیلي په توګه کار اخلي . هو، « فرهنګستان »، « دانشګاه »، « دانشکده » او داسي نور د ایرانی پاړسی دېري ښي او ښکلي کلیمي دي؛ خو په افغاني ژبو، په تېره بیا پښتو کي هیڅ ځای نه لري . زموږ خلګ تر دې ټکو له ټولني/ اکاډیمی، پوهنتون، پوهنځی/ فاکولتي او داسي نورو سره ډېر اُنس او اشنایي لري . که د ایرانیانو جعل کړئ « فرهنګستان » اخلو، بیا نو د هغو له « دانشګاه »، « دانشکدې » او زرو نورو ټکو څخه ولي نټه کوو؟! زموږ « نابغه » ژبپوهان، لیکوال، شاعران او ژورنالیستان باید هیڅکله د خلګو اساني، هوسایي، خوشالي او ملي ویاړونه تر خپل شخصي ذوق او ذهني قضاوت جار نه کي .

دا څو مثالونه او بولګي ټول د دې ښکارندوی دي، چي زموږ په بې هدفه « سوچه پالنه » کي هم د ایرانیانو د سربدالونکي سوچه پالني په څېر د ژبپوهني، متنپوهني، لغتپوهني او تر ټولو مخکي سلیم عقل او منطق چندان څرک نه ښکاري؛ ځکه همدا سوچه پال ایرانیان (چي زموږ « نابغه » ژبپوهان یې هم په شعوري یا غیرشعوري ډول پیښني کیي) له یوې خوا « رادیو تلوېزون » غوندي نړی‌والو ټکو « صدا وسیما » وایي، چي هغه په خپله هم د عربي ژبي لغتونه دي . د انګرېزي ژبي ایمیل **(e-mail)** ته یې پُست الیکترونیک **(electronic post)** عبارت غوره کړئ دئ، چي له یوې خوا بیرته انګرېزي او له بلي خوا د « ایمیل » ترلنډ، اسانه او جهانشمول ټکي ډېر اوږد، بې خونده او ناآشنا دئ . دغه راز، د خپلي ژبی ځیني اسانه او مروجي کلیمي ( برادر ، دشواری، زد وخورد، رویارویی) یې په لوی لاس تر پښو لاندي کړي؛ او پر ځای یې بې دلیله د تورکي ژبي و بې خونده او زموخته کلیمو ( داداش، چالش/ چالیش او داسي نورو) ته مخ نیولئ دئ . کامرې/ کېمرې **(camera)** غوندي جهانشمول ټکي ته « دوربین » وایي، چي پر هیڅ عقل او منطق نه برابرېږي؛ خو د سبزي پالکو پر ځای بیا د « اسفناج » په بڼه د انګرېزي ژبي د سپینیچ **(spinach)** یا نورو اوروپایي ژبو د ورته ټکي اخیستل هیڅ عیب نه بولي . د داسي ټکو شمېر تر انده پاس دئ، چي را غونډول او تشریح کول یې د یوې یا دوو مقالو کار نه دئ . دا چپه او راسته غوبلونه که ظاهراً د« سوچه کولو» تر نامه لاندي کیږي؛ خو عملاً ګورو، چي د سوچه کولو ( سوچه پالنه په خپله هم علمي او معقول کار نه دئ) پر ځای د ژبي و بې خونده کولو، ګرانولو او بالاخره ورانولو

ته لار هواريږي . نور چې هر نوم پر ايږدي د دوی کار خپل دئ، ماته خو د ساده، اسانه، اشنا، خوږو او عام فهمه ټکو پر ځای د مړو، وحشي، ناآشنا، ګرانو او جعلي ټکو په را برسېره کولو او رواجولو کې د ژبې له پېچلتيا، ګرانی، بې خوندی او بالاخره تباهی چپه بل څه نه ښکاري .

زموږ درنو مؤرخانو او ژبپوهانو ته روښانه ده، چې پاړسي ژبه يو وخت زموږ په پراخه سيمه کې د اسلامي دربارو رسمي او ادبي ژبه وه . تاجيکانو، ايرانيانو، هنديانو، پښتنو، بلوڅانو، تورکانو، کوردانو، عربو او داسي نورو قومو يې په وده او پرمختګ کې لو برخه اخيستي وه او ده؛ ځکه يې نو د ټولي سيمي خلګو په پوهېدو کې هيڅ ربړ او تکليف نه ليدئ؛ خو اوس ګورو، چې شونيستو ايرانيانو په خپلو غيرعلمي لاسوهنو سره له همغې خوږې او اسانه پاړسی څخه څه جوړ کړي دي؟! زه بېچاره پښتون يا هندی مسلمان خو څه چې له پلار او موره اصيل دري ژبې يې هم په پوهېدو او هضمولو کې لوی مشکلات لري . علت يې روښانه دئ . ايرانی پاړسي ورځ په ورځ د تعصب او تنګ نظری پر اساس له خپلي سپېڅلي، اسانه او خوږې تومني څخه بې برخي کيږي . د ژبو په بېلابېلو لهجو او زړو متنو کې د ژورې او هر اړخيزي پلټني پر ځای له لنډي لاري (شخصي ذوق، تعصب پالني او تنګ نظريو) څخه کار اخيستل کيږي . د ايرانی پاړسی دې مهلکي ناروغی اوس د پېښه ګرو ژبپوهانو او ليکوالو پر لاس په افغاني پاړسی( دري) او پښتو ژبه کې هم پراخي ريښي ځغلولي دي .

هيڅکله بايد هير نه کو، چې پښتو ژبه له پاړسي، هندي، عربي، تورکي او نورو سيمه ييزو او بين المللي ژبو سره نه شلېدونکي اړيکي لري . په دې توګه نو له دې ژبې څخه د نورو ژبو د مأنوسو او اشنا ټکو جبري شړل او ايستل ، له پښتو ژبې سره لو او نه بخښونکي جفا ده . موږ به نه خپلي پښتو کليمي لکه « زيار »، « هڅه »، « هلي ځلي » له پامه غورځوو؛ او نه به د پاړسي او عربي مترادفي او متقاربي مستعملي کليمي لکه : « کوښښ »، « تلاښ »، « زحمت »، « محنت »، « خواري » او داسي نور . په « بسپنه »، « مرسته »، « تعاون »، « معاونت »، « اعانه »، « مدد »، « کومک »، « چنده » او داسي نوروکي به يو هم د پرديتابه په ګونا نه کړو؛ هر يو به د زمان او مکان له غوښتني سره سم په خبرو او ليکنو کي کاروو. له « هيواد» ، « مېنه »،« ټاټوبی »، « وطن »، « مُلک »، « مملکت » او داسي نورو سره به هم دا چلند کوو. دا ټول لغتونه د پښتو ژبې د لغوي زېرمي ارزښتناکه برخه ده . بايد تر وسه وسه کوښښ وکو،چې په ويلو او ليکلو کې ژوندي وساتو. هر څونه چې د ژبې لغوي ذخيره اَرَته او بډايه يي، په هغونه اندازه د تفاهم، ليکني، شاعری او نورو ادبي - علمي هستونو ورشو پراخيږي . ژبپوهان، ليکوال، شاعران، ژورناليستان او نور قلموال يوازي دونه حق لري،چې د نورو ژبو دخيلي کليمي د سادګی اواسانی په خاطر د عامو خلګو په ژبه وکاږي، نه دا چې يوه بې رحمه او بې تجربې بزګر غوندي په هغه کې ناوړه او بېځايه پوچی وکي . په بله وينا، پردو ټکو ته يوازي افغاني رنګ او جوله ورکي؛ او په خبرو او ليکنو کې د انتخاب حق و خلګو ته پرېږدي .